# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنځنۍ (پنجشنبه) د کب ۲۳ - ۲۴مه گنه، پرله پسې (۴٦۳-۴٦۴) مه گنه، د ۱۴۰۴ل کال د کب ۲۹مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د رمضان ۲۹ مه او د ۲۰۲٦م.کال د مارچ۱۹مه


خدای مې ته یې چې خالق د کل عالم یې
هم ایمان مې دی راوړی پــــه حضرت ستا

گناهونه مې لـــه حد لـــه شماره تېر دي
لیکن ډېــــــــر لرم امید د مغفرت ستا

احمد کلاچوی



پوهندوی دوکتور سید اصغر هاشمي

# د میرزا خان انصاري په شعرونو کې د معنوي زېږېدنې نظریه (۲) برخه

په دې لیکنه کې د میرزا خان انصاري په څو شعرونو کې د معنوي زېږېدنې مفکوره څرگنده ده او د روښانیانـو او نورو شاعرانو په ډول یې موقف او نظر ښودل شوی دی.

ژوندون که غواړې په مرگې ومره
د رحیم رحم په دا مرحوم دی (۸)

شاعر پــــه دې اند دی چې ژوند د مرگ له مخې ارزښت لري. که غواړئ چې ژوند وکړئ، نو مړه شئ، له دې مـرگ څخه موخه جسمي او تلپاتې طبیعي مرگ نه دی، موخـه یې اروايي او معنوي مرگ دی. دې ډول مرگ ته مـعـنـوي پیدایښت وايي. کله چې یو انسان ناسم کارونه پرېږدي او د فکر کولو پر بنسټ د نړۍ پـــه اړه فکر پیل کـړي، دغـې وخت ته په تصوف، عرفان او دیني متونو کـــې د دویـم پیدایښت نظریه وايي. د شاعر په وینا د خالق تعالی رحم په هغه چا وي چې په ژوندون یې ځان خالق تـعـالـی تـه تسلیم کړی وي.

(په جسمي زیږون کې یو ځانگړي حالت ته اړتیا وي چې انسان پیدا شي او خپل وخت لري. دویم او اروايي زیـږون هم ځانگړی حالت لري او د ځینو ځانـــگړو لاملـونـو پر بنسټ پایله تر لاسه کوي. معنوي زیږون لـــــه جسمـي زیږون څخه ډېرې ارادې ته اړتیا لري او ارادي عمل دی. د فزیکي او جسمي زیږون لپاره نطفه ټاکل کیږي او د دویم ډول زیږون نطفه ایمان دی چې د انسان پـــه ډول بدن او په ځانگړي ډول پـــه زړه کې ځای پیدا کوي. کله چـې د ایمان دغه نطفه په انسان کې پیاوړې شوه، د جسم ټولې دننې او بهرنې غړې سم کارونه کوي او ټوله رهبري یې لـــه دننې نړۍ څخه وي.) (۹). همدا رنگه میرزا خان د همدې مفکورې په تړاو په نورو بیتونو کې وايي:

چې لـــــــــه مرگه پخوا ومري
ځان یـــــــې زود مونده ای غوڅه
چـــــــې فاني یې خپل صفات کړ
دوباره یـــــې ځان حیات کړ(۱۰)

(له مرگ څخه مخکې مرگ) کې لومړنی مرگ جسمي دی چې د نړۍ انسانان په همدې مـرگـونـو مـړه کـېـږي. په څرگند ډول داسې څرگندېږي چې ټـول انسانـان بـه یـو شان مړه کېږي، خو د مرگ ستونزمن حالـــت د ورځنـې ژوند او عباداتو سره تړاو لري. په مرگونو کې ښه او اسانه مرگونه هم شته او ستونزمن مرگونه هم شته. په لـومړي نیم بیتي کې له دویم (مرگ) څخه یې مـــوخه اروايي او معنوي مرگ دی چې دا مرگ لـــه مانا څخه ډک یو نوی ژوند دی. کله چې انسان لـــومړی مرگ او دویم ژوند تـر لاسه کړي، په حقیقت کې یـــې ځان موندلی دی. د ځـان موندل او یا ځان پیدا کول او کشفول اسانه کار نه دی. د ځان په اړه پوهاوی، د خود په اړه فکر کول دي.

۲مخ

ل: پروفیسور محمد نواز طائر

پښتو ژباړه: محمد الله ساپی

# پښتو ژبه او ادب (۳) برخه

## د پروفیسور محمد نواز طائر "پښتو ژبې او ادب ته لنډه کتنه" اردو اثر لومړی مقاله

د دې نوو څېړنو لپاره چـــې کوم بنسټیز حقایق اړین و، داسې ترتیب شول:
۱: ژبه د هرې سیمې او یا د هېواد د اوسیدونکو له وارثت د هغوی لـــه کلتور، ثقافت، تهذیب، تمدن او له روایاتو څخه استازولي کوي.
۲: مورنۍ ژبـــه د عقایدو، افکارو، ښوونې، روزنې او زده کړې لپاره تر ټولو اسانه، څواکمنه او اغیزمنه ذریعه ده.
۳: بهرنۍ اغیزې د یوه قام په ژبې هېڅکله دومره تاثیر نه شي ښندلی چې بیخي یې له خپلې ژبې لاس پر سر کړي.
د پښتو ژبې د ادبیاتو ارزونه که د دې پورتینو مادو په رڼا کې واخیستل شي،نـــو څرگنده به شي چې د پښتنو په کیسو، افسانو، نکلونو، متلونو او په شعر و شاعرۍ کې خپل کلتور، فرهنگ، ثـــقافت، تهذیب، تمدن، عقاید او روایات ټول خوندي پاتې دي تر دې چې پښتو اصطلاحات د دې ټولو څېړونو یو جامع نوم دی چې‌په لوستلو سره یې د دی نسل او توکم په اړه حقایق مخې ته راځي.
په اسلام له مشرف کیدو څخه وروسته د اسلامي ښوونې د اسانتیاو او د ټولو وگـــــړو د پوهیدو په موخه اسلامي علماوو د روه په ټاټوبي کې د پښتو ژبې لمن ټینگه ونیوله او د دې چارو په برکت پــــــه لنډه موده کې پښتنو ته د عقایدو او د الهي اوامرو پــــــه پوهیدو او هم د دین په پېژندلو کې ډېره اساني رامنځته شوه.
د خلورمې هجري پېړۍ له پیل سره سم د پښتنو خاوره او ژبه د عربي او فارسي ژبې لـــــه علمي یرغل سره مخ شوه خو په دې وخت کـــــې هم پښتو ژبه د دې دواړو ژبو په مقابل کـــــې په بشپړ ډول بلکل بې لاسو او بې پښو وه، څکه چې نـــــه یې کومه مذهبي سپېڅلتیا درلوده او نه د وخت د واکمنانو دولتي او درباري ژبــه وه، خو بیا هم د دې دواړو ژبو په مقابل کې لکه د غره په ټینگه ودریده. تر دې چې د اردو او انگریزي ژبـــو اغیز هم و نه شو کولی د پښتو ژبې سټه له منځه یوسي. دا ژبـــه تر اوسه د دې حقیقت د اثبات لپاره په خپل ځای ټینگه ولاړه ده او دا په ډاگه کوي، چې بهرنۍ اغیزې هېڅ مهال نـــــه شي کولای چې یوه ژبه په بشپړ ډول له منځه یوسي.

د پښتو ژبې د ادبیاتو ارزونه که د دې پورتینو مادو په رڼا کې واخیستل شي، نو څرگنده به شي چې د پښتنو په کیسو، افسانو، نکلونو، متلونو او په شعر و شاعرۍ کې خپل کلتور، فرهنگ، ثقافت، تهذیب، تمدن، عقاید او روایات ټول خوندي پاتې دي، تر دې چې د پښتو اصطلاحات د دې ټولو څېزونو یو جامع نوم دی، د دې په لوستلو خپله د دی نسل او توکم په اړه حقایق عام منظر ته راوړل کېږي.

د افغانستان پــــه بغلان او اروزگان ولایتونو کې د کشف شوو کتیبو په اړه د ښاغلي حبیبي یوه مقاله (۱) د پښتو اکاډمۍ پېښور په پښتو مجله کې خپره شوې ده، نوموړي له هغو ډېرلیکونو داسې اندازه اخیستې،

۳مخ

# پښتو ادبي دورې او څــــه وړاندیزونه

دوکتور محب وزیر

د هرې ژبـــــې د ادبیاتو مطالعه په سهي ډول هله اسانه او ممکنه شي کله چې دا د زماني، د فکریاتو او یـــــا د اسلوبیاتو له مخې سره وویشل شي. د نړۍ د هرې ژبې په څېر د پښتو ژبې ادب هم په بېلابېلو دورونو وېشل شوی دی چې بېلابېلو څېړونکو او کره کتونکو یې وخت په وخت یادونه او مطالعه وړاندې کړې ده. تـــــر دې دمه د پښتو ادب څلور دورونه یاد شوي یا پېژندل شوي دي. خو دلته یې زه لږ پــه بدل انداز کې د وړاندې کولو هڅه کوم. البته دلته باید دا وضاحت وکړم چې ما د دورونو سره پـــــــه لیندیو کې کومې نېټې یا کلونه ورکړي دي، دا د زیـــــاتې نږدې اندازې تـــــــر مخه دي، دا باید بېخي د تقویم په حساب څوک ناپ نه کړي.

### اوله ادبي دوره

اوله دوره: ابتدايي دوره (۱۳۹ه - ۹۲۳ه د سلطان خان لودي تر مرگه پورې) چې تیاره غونې دوره ورته هم وايي. تیاره غونې ورته څکه وايي چې مأخذات یې په تیاره کې دي او کوم مأخذ چې دا ابتدايي دوره یادوي، هغه خپله ډېر رون، صفا او واضح نه دی او د یـــــو شمېر پوهانو له خوا پرې گوتې پورته شوې دي. د دغـــــه دورې ټوله ټاله دورانیه کم او زیات نهه سوه کاله جوړېږي. د دغه دورې شعر او نثر د فکر او اسلوب پـــــه لحاظ بېخي تت او په خرپوسو دی او کوم واضح تاثر نه ورکوي.

### دویمه ادبي دوره

دویمه دوره: چې روښاني دور (۹۳۱ه- ۱۰۵۰ه ، یعنې د واصل روښاني تر ژوند پورې) ورتـــــه هم وايي. دلته د روښان یا روښاني څخه مقصد یـــــو دا دی چې دا له پیر روښان نه شروع کیږي، بل دا چـــــې دا دور د تاریخ په مستندو حوالو رون، روښان او صفا دی. مأخذات یې تر ډېره حده شتون لري، چاپ دي او د اولـــــس د استفادې لپاره موجود دي. دغه دور کـــــې د پیر روښان او د هغه د مریدانو سره سره اخون دروېزه او د هغه مریدان هـــــم شامل دي. د دغـــــــــه دور د شاعرۍ او نثر اسلوب او موضوعات د دغه دور د شاعرانو او لیکونکیو ترمنځه ډېر نږدې دي او څکه په یو دور کې سره تړل شوي دي.

### درېیمه ادبي دوره

درېیمه دوره: یعني ذرین دور (۱۰۲۲هـ-۱۲۵۰ه د علي خان تر ژونده پورې) چـې د خوشحال خان ختک، حسېن نــــه شروع کېږي او د خوشحال ختک ټول ټبر او مکتب سره سره پکې رحمان بابا او د هغه د مکتب ټول نوموړي شامل دي. د دغـــــه دور د شاعرۍ اسلوب کې څه لږ ډېر توپیر ضرور شته چـې د خوشحال او رحمان د اسلوب تر څنگ پکې د حسېن، حمید او نورو هندي اسلوب او د کاظم خان شیدا ځانگړی طرز هم موجود دی. خـــــو د موضوعاتو په لحاظ چـــــې د تصوف/ مذهبیات، عشق، نزاک خیالي، اخلاقیات، پندونصیحت په ترڅ کې ټول دور یې سره په شریکه موزون کوي، البته د خوشحال ختک بېخي ځانگړي موضوعات لکه قامیت، جنس، طبابت او ژوند پرستي د نورو نه بدل ضرور دي.

### څلورمه ادبي دوره

څلورمه دوره: یعني اولسي دور یـــــا د چاربېتي دور (د سیکانو د راتگ نه د انگرېزانو ابـــــتدايي پنځوس کاله)، دلته د اولسي ادب نـــــه زمونږ مراد شفاهي ادب نه دی، بلکې هغه ادب دی چې باقاعده یـــــې شاعر معلوم دی. دغه دور کې کوم کلاسیکي شاعر مخې ته نه راځي خو په اولسي کچه ډېر زیات شاعران موجود وو چې د چاربېتې صنف پکې ډېره وده کړې ده.

۳مخ

ل: کاندید اکاډمیسین میر حسین شاه

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون

# د ویرنې تاریخي شالید او د قنبر علي خان شعر (۳) برخه

ویرنه په پښتو ادبیاتو کې لکه په څلور ډوله ده:
۱: مذهبي ویرنې
۲: د پاچاهانو اړوند ویرنې
۳: د خپلوانو پر مړینې ویل شوې ویرنې
۴: د ملگرو او دوستانو پر مړینې ویل شوې ویرنې
د پورتنۍ وینا پـــــه اساس وروستۍ درې ډوله ویرنې په عامه کچه ورمونه (پندونه) لـــــري او لومړی ډول یې په ځانگړې معنا نومول شوې ده.
ویرنه په پښتو کې له پارسي سره یو توپیر لري او هغه دا په پښتو ویرنو کې افغاني روح ښه انځور شوی، د بېلگې په توگه لوی خوشحال خان خپل زوی نظام ته وايي:

کشکې څوان د پښتانه په ننگ کې مړ وای
نه چې گور لره روان شه لـــــــه تلتکه

دلته خوشحال خان د زوی د مـــړینې او جدايي په غم او ویر کې نه دی؛ بلکې دی پــــه دې غم کې دی چې ولې له خلکو سره یوځای و نه مړ[۲۵].
په پښتو ویرنو کې ټـــول شعرونه د پوهانو پر مړینه ویل شوي دي؛ په ځانگړې تـــــوگه په ولسي شعرونو کې، د بېلگې په توگه لـــکه د کندهار دغه ولسي شعر چې د ملا اخوند کتېه په غم کې ویل شوی دی:

هیهات پیدا بـــــه نه سي یو داسې گل کتېه جان
پـــــــــر شریعت محکمه رغېده تل کتېه جان
هیهات پیدا بــــــــه نه سي هزار هزار عالمان
پورتـــــــــه اخوند صاحب و د کندهار کتېه جان
دواړه پـــــــــر شرع محکم و د معرفت بلبلان
ولاړ د نـــاسوت د ملکه بار سو عامل کتېه جان[۲٦]

د پښتو په ویرنو کـــې د پاملرنې یو ټکی دا دی چې ویرنې یې ولسي اشعار دي او په دې کـــــې بدیعي صنایع کم کارېدلي دي[۲۷]. د پاچاهانـــــو د مړینې اړوند ویرنې چې زینب د میرویس خان لور د خپل ورور شاه محمود پـــــه مرگ ویلې ده:

ږغ سو چې ورور له دنیا تېر سو نا
کندهـــــــــار واړه په ژړا سو نا
زړه مې په ویر کـــــــې مبتلا سو نا
چې شاه محمود لــــه ما جلا سو نا

د قنبرعلي خان ویرنې
قنبرعلي خان بې له شکه چـــې د پښتو په ویرنبولو سترو شاعرانو کې د پښتو یــــو ځانگړی شاعر دی. دی د سرور خان په کورنۍ کـــې په تېرا کې زیږېدلی. ابتدايي زده کړې یې له سیمه ییزو علماوو زده کړې دي او د هغه وخت د ستر صوفي انور شـــاه مرید شوی. د ژوند ډېره برخه یې د خپل مرشد پــــه خدمت کې تېره کړې ده. د ده په دیوان کې داسې شعرونه شته چـــې دغه لوی بزرگ ته د گروه مندۍ ښکارندوي کوي:

پـــــه کمال به ورسم د خدای په حکم
چـــــــې مرید زه په یقین د کامل پیر یم
کـــامل پیر دی انورشاه صاحب باور کړه
زه قنبرعلي یــــــــې څکه دامنگیر یم

د قنبرعلي خان پلار د گورگانیانو په حکومت کـــې تر ډېره بېل باج اخیسته؛ مگر کله چـــــې پلار یې ومړ؛ نو ده دغه دنده تر لاسه نه کړه[۲۸].
د قنبرعلي خان د زیږېدنې کره نېټه روښانه نه ده؛

۲مخ

درېيمه دوره
پنځنۍ (پنجشنبه)
د کب ۲۳ - ۲۴ مه‌گــــنه
پرله پسې (۴۶۳ - ۴۶۴ مه) گڼه

۱۴۰۴ل د کــب مياشتې ۲۹
۱۴۴۷ق د رمضان مياشتې ۲۹
۲۰۲٦م د مــارچ مياشتې ۱۹

## د ميرزا خان انصاري په شعرونو...

ځان پېژندنه يوه بنسټيزه موضوع ده. ځان پېژندنه د اخلاقي فضايلو، نېک او ښه فکر، رېښتيا ويل، مينه او له خودۍ څخه وروسته زده کېږي. د دغو اخلاقي فضايلو زده کول دي چې د انسان په فکر، وينا او عمل کې ليدل کېږي او انسان ځان اصل او حقيقت ته رسولی شي.

د خپلو بدو اعمالو پرېښودل، په ځان کې فکر کول، د کايناتو د تسخير په اړه پوهاوی، له خالق سره اړيکه، له مخلوق سره مينه او هر ډول ښه انساني عمل کول او تر لاسه کول د معنوي زيږېدنې څخه وروسته پيدا کېږي او په حقيقي مانا پرمختګ کوي.

د خپلو بدو اعمالو پرېښودل، په ځان کې فکر کول، د کايناتو د تسخير په اړه پوهاوی، له خالق سره اړيکه، له مخلوق سره مينه او هر ډول ښه انساني عمل کول او تر لاسه کول د معنوي زيږېدنې څخه وروسته پيدا کېږي او په حقيقي مانا پرمختګ کوي.

ميرزا خان وايي چې د خپلو صفتونو فاني کول د دويم ژوند حيات پيلول دي. له صفتونو څخه يې موخه ناسمې کړنې پرېښودل دي. له دويم ژوند څخه مطلب اروايي او معنوي پيدايښت دی. په عرفان کې له غير ارادي او فزيکي مرګ پرته بل مرګ معنوي مړينه ده. دا مړينه ارادي ده. که چيرې انسان ځان يو داسې موجود وګڼي چې د يو ځانګړې موخې لپاره پيدا شوی دی او د انسان اراده د ژوند په ټولو چارو کې اړينه ده، نو ژوند به يې مانا لرونکی شي او که ځان بې واکه وګڼي او د ژوند لپاره موخه ونه لري، نو هېڅکله به برياليتوب تر لاسه نه کړي.

(ميرچا الياده د انسان پوهنې په برخه کې دين پوهنه ډېره اړينه ګڼي. الياده علاقمند و چې د ديني انسان څېړنه وکړي يا د (جامع) او (کامل) انسان څېړنه وکړي. په تصوف او عرفان کې د کامل انسان او ارماني انسان په اړه په لسګونو څېړنې شوي دي. الياده په دې لټه کې دی چې انسان وهڅوي او ورسره مرسته وکړي چې (ځان بيا کشف کړي) دا نظريه د مولانا د معنوي زيږون سره اړيکه پيدا کوي.) (۱۱).

انسان د الله لخوا پيدا کېږي، دنده يې دا ده چې فکر وکړي, پوه شي چې ولې او د څه شي لپاره پيدا شوی دی؟ د الياده نظرونه په دې دلالت کوي چې په ځان کې فکر کول او د کايناتو په اړه پوهاوی اړين دی. د دويم ژوند لپاره د لومړي پيدايښت څخه تر مرګه پورې فکر کول د دې لامل کېږي چې انسان معنوي زيږون تر سره کړي او حقيقت ته ځان ورسوي.

خوک حيات پــــــه مرګ کې غواړي
خوک خوک مرګ غواړي له ژونده (۱۲)

په (حيات کې مرګ) څخه موخه په ژوند کې مرګ تر لاسه کول دي. مرګ که په څرګنده مانا واخلو، له منځه تلل دي. دلته مرګ د بدو عملونو پرېښودل دي. له ژوند څخه د مرګ غوښتل په حقيقت کې د سم او مانا لرونکي ژوند پيلول دي. ارادي ژوند ته نوی ژوند ويل کېږي او لومړی مرګ له دويم مرګ څخه مخکې او اړين دی. دی لومړي مرګ د دويم ژوند لپاره يــــوه داسې موضوع ګڼي چې انسان کولی شي چې ځان، ټولنې او خلکو تـــه ښه کار وکړي. اصلي او حقيقي ژوند لــــه مرګ څخه مخکې مرګ ته وايي. مخکې يادونه وشوه چــې ميرزا ته معنوي مرګ (ارادي مرګ او لومړنی مرګ) او دويم ځل زيږېدنه (ارادي پيدايښت) وايي. د الله لخوا مرګ او زيږېدنه فزيکي او جسمي وي، خو په ارادي ډول مرګ او زيږېدنه معنوي او اروای وي.

انسان د الله لخوا پيدا کېږي، دنده يې دا ده چې فکر وکړي, پوه شي چې ولې او د څه شي لپاره پيدا شوی دی؟
د الياده نظرونه په دې دلالت کوي چې په ځان کې فکر کول او د کايناتو په اړه پوهاوی اړين دی. د دويم ژوند لپاره د لومړي پيدايښت څخه تر مرګه پورې فکر کول د دې لامل کېږي چې انسان معنوي زيږون تر سره کړي او حقيقت ته ځان ورسوي.

د اسلام په مبارک دين او ځينو نورو عقيدو کې په مرګ باور شته، په دويم ژوند بــــــاور لري، اخرت مني، نو صوفيان، عـــــارفان او د انسان پالنې مفکرين د مرګ او ژوند په اړه د خپلو فلسفي نظريو په درلودلو سره د مرګ او ژوند په حقيقت فلسفيانه خبرې لري او دوی ته هر مرګ (مرګ) نه ښکاري او نه هر ژوندي ته د ژوندي په نظر ګوري. دوی مخکې لـه مرګ څخه مرګ غواړي، دغه مرګ د دوی د نوي ژوند پيل دی. سره له دې چې له حقيقي او خدايي مرګ څخه وروسته نوی ژوند پيلېږي، خـــو دوی ارادي مرګ چې د منکراتو او ناسمو کارونو پرېښودل دي، يو نوی ژوند ګڼي. په دې ژوند کې دروغ نشته، هر څه د عدالت پر بنسټ مخکې وړل کېږي، لــــه انسانانو سره همدردي وي، انسان ته د انسان په نظر کتل کېږي، تعصب نه وي او په لسګونو هغه انساني ځانګړنې چې د انسانيت او اسلاميت پر بنسټ دي، ارزښت ورکوي.

چې لـــــــه مرګه پخوا ومري
نور به نه مري تل حيات دی(۱۳)
چې لـــــــه مرګه پخوا ومري
دا ژوندون يـــــــې اخرين دی
چې لـــــــه مرګه پخوا ومري
ګردن خلاص لــــه امانت کا(۱۴)

د شاعر له ليده جسمي مرګ څخه مخکې اروايي مرګ معنوي پيدايښت دی. لـــه دې مرګ څخه مخکې که په ارادي مرګ سړی مړ شي، نو دی به د تلپاتې ژوند څښتن شي. دا ژوند په دونيا او اخرت کې وي. که يو انسان ښه کارونه وکړي او د معنوي زيږېدنې مرتبه تر لاسه کړي، نوم يې په دونيا کې له مرګه وروسته ياد وي او په اخرت کې به يې برياليتوب تـــــر لاسه کړی وي او د ښه ژوند خاوند به شي. په دويم نيم بيتي کې وايي چې له جسمي مرګ څخه مخکې مرګ د دې لامل کېږي چې انسان ښه او تلپاتې ژوند تر لاسه کړي. دا هغه ژوند دی چې نه مخکې يې داسې ژوند تجربه کړی وي او نه به وروسته داسې ژوند تجربه کړي، لـــه "وروسته" څخه موخه په دې دونيا کې دی. معنوي مرګ د دې لامل کېږي چې په عقبا کې تلپاتې ژوند تر لاسه کړي. کـــله چې انسان منکرات پرېږدي او د حقيقت د تـــر لاسه کولو لپاره نوی ژوند (معنوي زيږون) تر لاسه کړي، نـو په دې وخت کې انسان په څرګنده توګه خلکو ته د نيست په ډول ښکاري، خو د فنا او ډېرو دونيوي کارونو دغه پرېښودل د هستی په مانا دی. کـله چې انسان په جسمي ډول پيدا شي نور نو مرګ نه لـــري. د ده غير ارادي مرګ د خالق لخوا وي او بلې نړۍ ته ځي او هلته نـــوی ژوند پيلوي. د شخص ځای بدلون کوي، لـه يوې نړۍ څخه بلې نړۍ ته ځي، له يـو ډول ژوند څخه بل ډول ژوند پيلوي، نو ځکه وايو چې لـــه زيږېدنې وروسته انسان نه مړ کېږي. انساني اروا يو ذاتي شی دی چې د نړۍ انسانانو ته ورکول کېږي، خو په ځينو د ماديت خوا برلاسی وي او له روحانيت څخه لرې وي. دا د الله تعالی د رحمت يوه بېلګه ده چــې د نړۍ انساناتو ته يې اروا ورکړې ده.

د انسان مرګ له اروا سره تړاو لري؛ يعنې جسم له منځه ځي، خو اروا يې بلې نړۍ ته ځي او هلته نوی ژوند پيلوي. د هندوانو د حلول او تناسخ نظريه چې يې خپل نظر دی او له اسلام سره متضادې خواوې لري، په لرو ډېر توپير سره ورته نظر دی. زه د دې نظريې يادونه ځکه کوم چې په ورځني ژوند کې انسان پالنه د ښو په کولو او د بدو په نه کولو ټينګار کوي او دوی په دې نظر دي چې په دې دونيا کې ځکه ښه کول ښه دي چې لـــه مرګه وروسته د انسان اروا خوښ وي او اروا د تلپاتـــــې خوښ ژوند په موخه بيا نړۍ ته په بل ښه موجود کې راځي. په دې دين کې د همدغې نظريې پر بنسټ خلک ښه کـــوي او بد نه کوي چې له مرګه وروسته يې اروا له غمونو او ستونزو سره مخامخ نشي او خوښ وي. ميرزا خان انصاري دويم ژوند له لومړي ژوند غوره ګڼي. لومړنی ژوند په ناپوهۍ کې تېرېږي او دويم ژوند د پوهـــې او عقلانيت له مخې غوره کېږي. دا هغه ژوند دی چې د راتلونکي (عقبا) ژوند تضمينوي. دا ژوند ته ښکلا ورکوي او د خوښۍ ژوند وي. د شاعر په غوره شوو شعرونو کې لـــه دويم ژوند څخه موخه معنوي زيږون دی. معنوي پيدايښت لــه جسمي پيدايښت څخه غوره والی لري، خو لـه جسمي پيدايښت پرته دا پيدايښت پايښت (دوام) نه کوي. جسمي زيږون معنوي زيږون ته لاره جوړوي. که جسم نه وي، مانا خپل ارزښت له لاسه ورکوي او که مانا نه وي، جسم بـــه د يو کالبت په ډول وي، نو جسم او مانا يو د بل لپاره لازم او ملزوم دي، د ملا او ګېډې په شان نه بېلېدونکي دي.

### مأخذونه

۸. انصاري، ميرزا خـــان. د ميزا خان انصاري کليات، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۴ل، ۲۰۷مخ.
۹. پورتنی اثر، ۱۱۸مخ.
۱۰. علمی، قربـانی. ميرچا الياده و انسان شناسی. سال ۱۳، شماره ٣٦. پـــــــژوهشی انسان پژوهش دينی، ۱۳۹۵ل. مخ ۷.
۱۱. انصاري، ميرزا خـــان. د ميزا خان انصاري کليات، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۴ل، مخ ۱۲٦.
۱۲. پورتنی اثر مخ ۹.
۱۳. همدا اثر، مخ ۱۴.
۱۴. همدا اثر، مخ ۲۴.

★★★

★★

## د ويرنې تاريخي شاليد او...

مګر له شواهدو داسې ښکاري چې د دولسمې هجري پېړۍ په لومړيو کې يې ژوند کاوه او په (۱۲۰۷هـ ق) کې له دې نړۍ کوچېدلی دی.

قنبرعلي خان د تيرا لـــه ذوقپالو شاعرانو څخه و. د ده ويرنې او غزلې پــــه پښتنې ټولنه کې نه هېرېدونکی ځای لري او د عـــامو او خاصو په ژبه جاري دي. د نوموړي غزلې لـــــه ورمونو ډکې دي؛ مګر بيا هم د جوړښت له مخې پکې وعظ او نصيحت ډېر ستومانونکی او وچ راوړل شوی. په ځينو غزلو کـــې يې مذهبي ګروه مندي ډېره ليدل کېږي؛ لکه په دې غزل کې:

څو دې نـــــــه وربړي زړه د غفلت چخي
اهل دل به وکړي خپل محبس تـــــه چخي
عنايت برخه د هر چـــــــــا ازلي دي
لوی درياب دی د پښـــــــو لاندې پټخي
پادشاهانو مسند څه عـــــــجب لذت کا
فقيران وکړه مســـــــــند ناستی په لخي
څوک دې خوري حـــلوا، حلوا ، حلوا د قندو
څوک جواری، اوربشې خوري، شوملې کوټخي
په قيامت مــــــــــــې پرده وساتې يا ربه
چې دښمن راباندې نـــــــه وکاندي سخي
د **قنبرعلي** نور هېڅ يــــــــــو مراد نشته
که روان مې کړې مهدي صاحب پـــــه مخې[۳۰]

په پښتو ادبياتو کـــې ويرنبولي شاعران ډېر شته دي؛ خو په ځانګړې معنا تر ټولو پېژندل شوي يې دا دي:
سيد ابوعلي شاه، ملا نعمت الله، ميرانشاه، نورالله شاه خدای نظر، ملا هوس او ملا دوست علي[۳۱]. لکه محمد غلام چې د عاشورا له پېښې نه د حسين د خور په خوله شعرونه لري، خپلې مور فاطمې رضی الله عنها ته وايي:

موري ته وې په کربلا کـــــــــې
مو شولو پاتې دغه صحرا کــــــــې
د مو خېمې به تالاوالا کــــــــې
په مو د دوی دې ډېر ډېر ظلـــمونه
عباس روان د فرات پـــــه لوري
مو شولو واړه ورته سرتـــــــوري
نه ستنېدلو ادکــــــــــې موري
جنګ کې يې پرې شول دواړه لاسونه
شهادت موري پــــه اکبرجان راغلو
لاس په نامه شو ډېر پــه ناکام راغلو
و خپل بابا ته هم دی په سلام راغلو
رخصت يـــــــې راکه وکم جنګونه

د دغې ويرنې په شان محتشم هم د زينب بنت علي ابن ابی طالب پــــه خولې د خدای رسول او زهرا (فاطمې د حسين مور) ته پخپلې وينا کې بوللې ده:

پس با زبان پر ګله آن بضـــــــعه البتول
رو کرده در مدينه کــــــــه يا ايهاالرسول
اين کشته فتاده به هامون حسين توســـت
اين صيد دست و پا زده در خون حسين توست
اين عرقه محيط شهادت که روی دشـــــت
از موج خون او شده ګلګون حسين تـــوست
اين شاه کم سپاه که خيل اشــــــک و اه
خرګاه از اين جهان زده بيرون حسين توست
پس روی در بقع به زهرا خطاب کـــــــرد
وحشن زمين و مرغ هوا را کباب کـــــرد

قنبرعلي خان د شعر په برخه کې غزل پاللو يا غزلتوب ته ډېر پام کړی او ويرنې يې هم په غزل کې بوللې دي او د کربلا پېښې يې د (سلام) په بڼه بيان کړې دي او د (سلام) په چاپېريال کـــې يې غزل ښه پنځولی؛ لکه څنګه چې لوستونکي او اورېدونکي يې لـــه اورېدو ډېر اغېزمنېږي، دغه شعرونه يې سره له دې چې خوږلني لري؛ نو يو ډول خپګان هم راوړي.

قنبرعلي خان "تابوتي" ويرنې پنځولي چې په هغې باندې نه يواځې انسانان؛ بلکې د لوړې پوړۍ اوسېدونکي هم ژاړي او فرياد ترې کوي؛ مګر لېوالتيا لري چې وايي ورې. ده په نورو غزلو کې لـــه دې کاره ډډه کړې؛ مګر په ويرنو او "سلام" کې يــــې دغه ډول تخيل مخه ډب کړې او د شعر ياد تخيل ته يې د ويرنو او تيرايي ويرنبولو تـــر منځ بېل غوره والی ښندلـــــی دی. د فاطمې (د حسين مور) په خولې د شهادت پېښه داسې راته کوي:

ځار شه مور ستا د زيبا تورو کاکلـــــو
ځارېږم زويه ستا د مخ په ګلـــــــو
که د تا د مخ په ګلو خزان راشــــــــي
تر قيامته به وي کوکې د بلبلــــــو
چې ناوک د اجل تا په جبين کېښـــــود
اور به پورې کړې د جونو په اوربلــــو
زه چې د تا د مخه ديدن کوم حـــسينـا
زړه مې تاب نه لري د سترګو په چيځلــو

ستا د روح بلبل که باز د اجـــل يوسي
د ما زړه به ورسره وړي پـــــه منګولو
پر جفا به ستا د مخ تــــوتي پرواز کړ
ښه شوه ما څخه ځای نـه دی د ساتلو
له دې غمه به زه نــــــه رغېږم زويه
زړه مې غوڅ کړ د تـــا ملال ملال کتلو
ژبه بنده کړه ای **قنبرعلي** نور بس کړه
د قلم ژبه دوه ځايـــه شوه په دا ويلو

او لاندې شعر د نوموړي ديني خوا ښه روښانوي او د شاعر مذهبي ګروهه هم ښه څرګندوي:

د الله د ذات له نوره لـــــــري سر پيوستون هسې
لـــــکه امر د قدرت شـــــــه په کن فيکون هسې

د احد او احمد تـــــــــــــر ميانه يو ميم فرق دی
ميم مرأت د کاينات دی، د دې مـــيم دی مضمون هسې
د علی او د علي په ميان کـــــــې فرق د نقطې نشته
لکه عين د قدرت چې لـــــري سير د سکون هسې
فاطمه د نور سراج ده، د مشــــــکات مصباح زجاج ده
په معنا د نور سراج ده، د جـــــــنتو خاتون هسې
نور د نور په لور طلوع کا، سر د سر پـــــــه لور رجوع کا
د حسن حلعت زرغون دی، د حسين دی ګـــلګون هسې
پاک دوازده امام دي، د اســــــــلام دارالسلام دي
د قدرت په کارخانه کې لـــــــکه در مکنون هسې
هر يو بيت زړه په خلوة وه، د نجـف ګنج دولت وه
نن په حکم د شاه ووتله درونــــــه بېرون هسې
محبت مې پر علي دی، زړه يقين مــــې په ولي دی
ايښی ما له يکدلي دی سر د خيال پـه زنګون هسې
څو راغلی په عالم يم، د فراق پــــــه اوښکو نم يم
د **قنبرعلي** په ځای به نه وي بل يـــو محزون هسې
په دا فکر د قنبرعلي د چـــــــــــا علم رسيږي
انورشاه په حکم راغی دا غزل پــــــه قانون هسې

پورتنی غزل چـــــې قنبر علي خان په کې خپل فکر پيلی دي؛ دا د خوشحال خان خټک يو مشهور غزل دي چې د هغه د زوی عبدالقادر خان خټک په شمول د کلاسيکې دورې ګڼو شاعرانو په دې قالب غزلونه ليکلي دي. همدا ډول د روان پېر ګڼو پښتو شاعرانو هم په همدې زمکه د غزل ليکلو هڅې کړې دي چـــې دلته يوازې د خوشحال خان خټک او د هغــــــه د زوی عبدالقادر خان خټک د غزلونو څخه څو بيتونه د بېلګې په توګه راوړو.

خوشحال خان خټک وايي:

لکه زه په يار مئين يم، بل به نــــــه وي مئين هسې
لکه زه پسې غمژن يم، بل به نـــــه وي غمژن هسې
لکه زه يې ننداره کړم، ورځ او شپه پــــــه خپله خونه
خوار مجنون ليدلی نه و، پـه درست عمر ديدن هسې
د ارم ارام مې بيا موند، ستا پـــــه غولې کې خوشحاله
خوښ له بخته له قسمته، چـــې يې راکړ وطن هسې
چې خوشحال خټک يـــــې وايي، په پښتو ژبه خبرې
په پارسي ژبه به نــــــه وي، که پوهيږې سخن هسې

عبدالقادر خان خټک وايي:

لکه زه په يار مفتون يم، بل به نــــه وي مفتون هسې
لکه زه پسې محزون يم، بل به نـــــه وي محزون هسې
دا غزل په پښتو ژبه چـــــــــــې بيان عبدالقادر کړه
دروغژن يم که بې خانه، وايي بـــــل يو پښتون هسې

### مأخذونه او څرګندونې

۲۵. بېنوا، عبدالروف، آريايي، پارسي او پښتـــو ويرنې، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳٦۲ هـ، ۲۵ مخ.
۲٦. پورتنی اثر، ۲۸ مخ.
۲۷. دغه مطلب د پارسي پـــــه لرغونو ويرنو کې هم شته دی؛ لکه څنګه چې بېدل د زوی ويـــرنه د کمال له مخې وبولله:

هيهات چه برق پرنشان رفت
کاشوب قيامتم بـه جان رفت
ګر تابی بـــــود در توان رفت
طفلم زين کهنه خاکدان رفت
بازی بازی بــــــر آسمان رفت

(انصاري، نورالحسن، پارسي ادب بــــــه عهد اورنګزېب، ډهلي، ۱۹٦۹م، ۱۸٦ مخ).
۲۸. قنبر علي خان، د قنبرعلي ديـــوان، (تدوين: همېش خليل)، دارالتصنيف: پېښور، ۱۹۷۲م، ۱۳-۹ مخونه.
۲۹. کوکارې وهل چــــــــې د وير او غم غږ دی؛ مګر په اصطلاح کې هغې ويرنې ته وايي چې د حسين کورنۍ ته ځانګړې ويل شوې وي.
۳۰. رضا همداني، ادبيات سرحد، (لومړی ټوک)، پېښور: ۱۹۵۳م، ۴۲۹ مخ.
۳۱. پورتنی اثر، ۴۰۷ او ۴۳۰ مخونه.
۳۲. دې تـــــه ورته په پارسي ادب کې هم ډېر بيتونه لرو، يوه بېلګه يې وګورئ:

ز احمد تا احد يک ميم فرق است
جهانی اندرين يک ميم غرق است

★★★

# پښتو ژبه او ادب...

چې پښتو ژبه څوارلس سوه کاله پخوا هـــم د تحریر ژبه وه. نوموړی د هغه زمانې د لویکانو د شاهي کورنۍ د یوه شاعر یادونه هم کوي او لیکي چــې دا شاعر د (۱٦۳هـ) پورې ژوندی و. د هغه په اند په دې موده کې د پښتونخوا په شمالي سیمو کـــې په پښتو ژبه شغدي او پهلوي ژبې ډېر اغیز درلود.

د اثر افغاني څېړونکی د مراة الانساب په حواله لیکي (۲) چې د پښتو ژبې د لیکدود پیل د سلطان محمود غزنوي د حسن میمندي له لورې وشو. تـر دې وړاندې د پښتو ژبې لیکدود پـــــه میخي لیک لیکل کیده، لکه څرنګه چې د بېستون په ډېرینو کتیبو کـــې د څلورمې کتبې د دیارلسم بیت په دریې سطرونو کې د پښتو ژبې درې مصرعې لیکل شوي دي. ښاغلي ایراني لیکوال ډاکټر رضا شفق (۳) پـــه خپل تألیف د ایران د ادبیاتو په تاریخ کـــــــــې او ښاغلي عبدالحی حبیبي (۴) او ځینو نـــــورو پوهانو د دې په اړه یادونه کړې ده، په دې کې هره یوه مصرعه شپږ سیلابونه لري، له دې څخه برېښي کوم وخت چې پښتانه د ایران په شمال ختیځو سیمو کې میشت وو، نو دوی په میخي لیکدود لیکنې کولې.

د حبیبي په قول د بغلان د سور کـــوتل له ډېرینو کتیبو څخه دا په اثبات رسیږي چې پښتو ژبه په هغه زمانه کې د بلخ د اوسیدونکو ژبه وه. چینایي سیلاني هیون تسانګ د بلخي ژبې ډېره ستاینه کړې ده او لیکلي یې دي چې دا ژبه له ډېرې ادبي زېرمې برخمنه ده، داسې معلومیږي چې پښتنو د اسلام له قبلولو وروسته خپله ټوله علمي ادبي پانګه له مینځه یوړه، ځکه ډېر امکان شته، دوی ته تر دې وروسته خپل لرغونی ادب لـــــه ځان سره خوندي ساتل بدعت ښکاریده.

پروفیسر ایس ایم او ځـــــو نورو ختیځ پېژندونکو لکه د بېلګې پـــــــه توګه د ګرئیرسن، بیلیوز، راورټي، جونز، کلپراټ، ډورن، الفنستون او د ولیم هنري پـه حوالو سره لیکي چـــې له اسلامې پېر څخه وړاندې هم په پښتو ژبه کــــــې ضرور څه نا څه ادبي پانګې په تحریري بڼې شتون درلود او د خپلو ګاونډیو ژبـــــو لکه سنسکرېټ او اوستا سره په ادبي ډګر کې د سیالۍ جوګه وه. د دوی پـــه اند د پښتو پـــــه شعري اُصنافو کې ځینې داسې اصناف شته، چې تر اوسه په خپل پخواني حالت کې موجود دي. د دې لرغونو او اوسنیو اصنافو څو نمونه په دې ډول دي.

ټپه، چاربیته، لوبه، بدله، نیمکۍ، غزل، رباعي (دا دواړه د اصلي فارسي غزلونـو رباعۍ سره توپیر لري)، کسرونه، نارې، بګتۍ، صوتونـــــــه، بابولاله، غاړې، الاهو، جوړه، ترانه، غریبه، دوه بېتي، مثلـث، مکالمه، زېرۍ، د نغارې غړونه، قولونه، لـونګین، رجزونه، اړونه او همداسې نور. پـــــه دې ټولو اصنافو کې د چاربیتې او د بدلې ډګر ډېر پراخه دی چې پـــــــه دې کې ډېرې اوږدې اوږدې پېښې کیسې او داستانونه رانغاړل کېږي. د چاربیتې څمکه د رزمیه شاعرۍ لپاره ډېره مناسبه ده.

د امیر کابل شاه د واکمنۍ پـــــه زمانه کې په غور کې د پښتو ژبې لوی شاعر امیر کروړ ژوند کاوه دا د غور د واکمن امیر پولاد زوی و. د پټې خزانې پـه کتاب کې یې د تاریخ سوري په اړه لیکلي دي چې دا امیران پښت له پښته د غور په سیمه کې استوګن و او د سور له اولادونو څخه وو چې د ضحاک لـــــه نسب څخه و. امیر کروړ په (۱۳۹هـ) کې د غـــــور او مندیش واکمن و او د جهان په پهلوان سره یـــــې شهرت درلود. نوموړي د پښتنو په نومیالیو شاعرانو کې تر ټولو لومړی مخکښ او لوړ شاعر تېر شوی دی. هغـــه د خپل دوران د توري او قلم څښتن و. (۵) د امیر کروړ کـــــــوم نظم چې تر موږ خوندي را رسیدلی دی، دا خالـــص په حماسي رنګ کې لیکل شوی دی. دا رزمیه نظم څلـــــورویشت مصرعۍ لري او د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک پـــه (۱۱۴۱هـ) کې نقل کړی دی. له همدې امله دا په پښتو ادبیاتو کې تر ټولو لرغونې بېلګه ګڼلی شو. د دې نظم یو څو بیتونه په دې ډول دي.

زه یم زمری په دې نړۍ له ما اتـــــل نشته
په هند و سندهـ او په تخار او په کابل نشته
بـــــــل په زابل نشته
لـــــــــه مـا اتل نشته
په لویو غرو مې وینا درومې نه په څنډ و په تال
نړۍ زما ده، نوم مې بولي پـــــر دریځ ستایوال
په ورځو شپو، میاشتو، کال
له ما اتل نشتـــــــــه(٦)

د امیر کروړ د دې نظم پـــــه اړه د پښتو ژبې یو څېړونکی لیکي، د پښتو ژبې دا تـــــر ټولو لرغونی نظم دی، چې تر موږ را رسیدلی دی او د څو لاملونو له کبله دا نظم له ځانګړي تاریخي اهمیت څخه برخمن دی، تر ټولو لومړۍ خبره خو دا ده، چې دولس سوه کاله پخوا هم په پښتو ژبه کې اوچته او غوره شـــــاعري دود وه او بله دا چې له دې نظم څخه په هغه وخت کې د پښتونولۍ او د دوی د مزاج او د پښتنو د طرز تفکر ښه څرک لګیدلی شي.

که څه هم د امیر کروړ دا نظم له دویمې هجري نېټې سره تړاو لري، خو دا د پښتنـو د روایاتو او د دوی د فکر او سوچ رښتینې ترجماني کوي. که د ژبې متروک ټکي او لغتونه ترې بهر کړل شي او پـــــه دې نظم کې د اوسنۍ زمانې مروجه ټکي ځاي پرځای کړل شي، نو لوستونکي به پرته له تامله داسې وانګیري چې ګواکې دا د معاصر پېر نظم دی.

له امیر کروړ وروسته د پښتو ژبې هغه دوران پیلیږي، چې د اسلامي تعلیماتو د خپرېدو لـه امله د عربي او فارسي ژبې تر سخت اغیز لاندې راځي. تـر دې وروسته د پښتو شعر و شاعرۍ ته د دې دواړو ژبـو اصناف لاره پیدا کوي او سوکه سوکه پښتو ژبـه د هغوی د کتابي ادب بڼه خپلوي، چې د شاعرۍ د ویلو لپاره یـې د دې دواړو ژبو څخه اصناف په مستعار ډول اخیستې وو. پـه دې وخت کې نثر هم په پښتو ژبه کې دود مومي، د تاریخ، ادب او د اسلامي ښوونو په اړه په پښتو ژبه کې د نثر کتابونه لیکل کېږي. د هغه وخت د ځینو نوموتو شاعرانو نومونه څه په دې ډول دي.

له امیر کروړ وروسته د پښتو ژبې هغه دوران پیلیږي، چې د اسلامي تعلیماتو د خپرېدو لـــــه امله د عربي او فارسي ژبې تر سخت اغیز لاندې راځي. تـر دې وروسته د پښتو شعر و شاعرۍ ته د دې دواړو ژبـو اصناف لاره پیدا کوي او سوکه سوکه پښتو ژبـه د هغوی د کتابي ادب بڼه خپلوي، چې د شاعرۍ د ویلو لپاره یـې د دې دواړو ژبو څخه اصناف په مستعار ډول اخیستې وو. پـه دې وخت کې نثر هم په پښتو ژبه کې دود مومي، د تاریخ، ادب او د اسلامي ښوونو په اړه په پښتو ژبه کې د نثر کتابونه لیکل کېږي. د هغه وخت د ځینو نوموتو شاعرانو نومونه څه په دې ډول دي.

شیخ رضي لودي(۳۵۱هـ ـ۹٦۲م)، شیخ بیټن(۴۰۰هـ ـ ۱۰۰۹م)، شیخ اسماعیل سړبنـــــی(۴۰۰هـ ـ ۱۰۰۹م) خرشبون(۴۱۱هـ ـ۱۰۲۰م)، اسعـــــد سوري(۴۲۵هـ ـ ۱۰۳۳م)، تایمني(۵٦۰هـ ـ ۱۱٦۴م)، ملکیــــار غرشین (٦۷۱هـ ـ۱۱۷۵م)، ښکارندوی(۵۸۰هـ ـ۱۱۸۴م)، قطب الدین بختیار کــــــــاکي(٦۳۳هـ ـ۱۲۳۴م)، شیخ متي (٦۸۸هـ ـ۱۲۸۹م)، بابا هوتک (۷۴۰هـ ـ۱۳۳۹م)، شیخ ملکیار (۷۳۹هـ ـ ۱۳۴۸م)، اکبـــــر زمینداوري (۷۸۱هـ ـ ۱۳٦۹م)، سلطان بهلول لـــــودي (۸۹۳هـ ـ ۱۳۸۸م)، خلیل خان نیازي (۸۹۳هـ ـ ۱۳۸۸م)، شیخ محمد صالح (۹۰۰هـ ـ ۱۴۹۴م)، بي بي زرغونـه(۹۰۰۳هـ ـ ۱۴۹۷م) زرغون خان(۹۱۲هـ ـ۱۵۰٦م)، دوست محمد کـــــاکړ (۹۲۹هـ ـ۱۵۲۲م)، ارزانـــي (۹٦۰هـ ـ۱۵۵۲م)، خواجه ملوزی یوسفزی (۱۰۳۳ه ـ ۱٦۲۳م)، میرزا خان انصاري (۱۰۴۰ هـ ـ۱٦۳۰م)، دولـــــت لوانی، ملا مست زمند، مخلص او واصل (۱۰۴۰ هـ ـ۱٦۳۰م).

د ژبـــــې سبک وینا طرز د مضمون زړه راښکون او د شعرونو صنایع په لحاظ په دوی کې هر یو له خپل لوړ مقام او مرتبې څخه برخمن دی. د بېلګې په توګه د ملک یار غرشین کـــــلام د پخوانو نارو په ډول دی. خلیل خان نیازي پښتو شاعري لـه رباعي سره اشنا کړه. او د فارسي د غزل په څمکه یـــــې لومړی پښتو غزل ولیکه. دوست محمد کاکړ لـــــه ټولو څخه وړاندې په مثنوي کې خپله طبعه وازمایله. د شاعرۍ لـــــه دې ډول خپریدو سره د پښتو ژبې ادب په دوو برخو وویشل شو، یو کتـــابي ادب (۷) او دویم ولسي ادب رامنځته شو. په دې دواړو کې د نظم او نثر ډېروالي شتون درلود. پـــه کتابي منظوم ادب کې د فارسي او عربي ژبو کابو ټولــو اصنافو ځای ونیو او پښتنو شاعرانو د عربي ژبې د شاعرۍ بحرونه او اوزان د پښتو ژبې په اډانه کې واچول. په تحریري نثر کې مسجع او د مقفی نثر دود عام شـــــو او له دې سره چې د پښتو ولسي ادب پـــــــه تحریري بڼه نه و موجود او دولس په سینو کې په شفاهي ډول پاتې و، په پښتنو کې هماغسې زړه راښکونکی پاتې شو. لـــــه شعر و شاعرۍ څخه پرته چې مخکې یـــــې یادونه وشوه، متلونه، کیسې، پېښې، نکلونه او نورې بې شمېرې بېلګې سینه پـــــه سینه له یوه نسل څخه بل ته ولیږدول شوې او د همدې ولسي ادب له برکته پښتون قام له خپلې ماضي او له لرغونو روایاتو سره تړلی پاتې شو.

د پښتو ژبې ولسي ادب ته هم اسلامي ښوونو او اقدارو لاره وکړه، ځکه چـــې د کتابي ادبیاتو په لومړي پړاو کې هم دې موضوعاتو ډېر مقبولیت تر لاسه کـــــړی وو. له همدې امله د شیخ رضي لودي لـــــــه زماني (۳۵۱هـ ـ ۹٦۲م) نیولې د دوست محمد کاکړ (۹۲۹ هـ ـ۱۵۲۲م) تر عصر پورې د حمد و ثنا، پندونو، دعاوو او منــاجاتو دوره وه. هماغسې لکه د تاریخ د پیل په پړاو کې چې د سنسکریت او اوستا په مقدسو بیتونو او سندرو کې ویل کېدل. د دې زماني شاعري ساده او ژبه یې سوچه او زړه راښکونکې وه، نه خو په دې کې ژورو فلسفي مسلو ځای نیولی وو او نه په کې د تصوف باریکو مسلو. تـــــــر دې وروسته د روښاني غورځنګ دوره پیل شوه چې دا نیم مذهبي او نیم سیاسي تحریک و. د دې غورځنګ له امله په پښتو ژبه تصوف غلبـــــه وکړه. ارزاني، مخلص، عمر، میرزا خان انصاري، دولت او واصل د دې دورې لــــــوړ پوړي د دیوان صوفي شاعران وو. د روښاني غورځنګ له صوفي شاعرانو څخه پـــــــــرته د پښتو ژبې له پخوانیو شاعرانو څخه د نورو پښتو شاعرانـــــو د کلام ټولګې تر اوسه موږ نـــــه دي ترلاسه کړي، البته د دې شاعرانو د کلام بېلګې زموږ تر ګوتو رارسیدلي دي.

د پښتو ژبې یو مهم دوران چـــــــې د پښتو ادبیاتو تاریخ لیکونکو له یوې مخې له پامه غورځولی دی هغه د سړبن قبیلې په ځانګړي ډول د یوسفزیو تاریخ دی. دوی په ډېر جبر د کابل له خوا و شا څخه هجرت ته اړویستل شول او په اوسنیو سیمو کـــــــــې(۸) میشت شول. دا دوره د سلطان الغ بیګ له واکمنۍ څخه پیل شوې د بابر، همایون او د اکبر د سلطنت پـــــورې غځیدلې ده. په دې انقلابي دوره کې له یوې لورې د مغلو او یوسفزیو ترمنځ دښمني دوام درلود او له بل پلوه یوسفزي د طاقت په زور اړویستل شوي وو چې خپلې سیمې پرېږدي. چې بیا یې په سوکه سوکه په سمه، سوات او د پېښور په سیمو خپله ولکه ټینګه کړه. تر دې وروسته د یوسفزو نومیالي مشر شیخ ملي ولکه شوې سیمې په خپل منځ کې او له یوسفزیو سره د راغلیو قبیلو ترمنځ وویشلې. په دې اړه یې یو کتاب ولیکه او دا پېښې یې په کتابي بڼه د شیخ ملي د دفتر په نوم خوندي کړې. که څه هم له بده مرغه زموږ تر ګوتو لا دا لاسوند نه دی رارسیدلی، خو د شیخ ملي د دفتر نوم پـــــه تذکرو کې، په تاریخي کتابونو او د خوشحال خان په کلام کې څو څو ځلې راغلی دی. په تېرې پېړۍ کې ځینو غربي مؤرخینو د دې کتاب د لیدلو په هکله دعوې هم وکړې. لکه څنګه چې پیر معظم شاه د حافظ رحمت خاني شهید په وینا د (خان کجو) او د (تواریخ افاغنه) په (۱۷۷۲م) له مخې د تواریخ حافظ رحمت خاني په نوم کتاب په (۱۷۷۲م) کال کې ولیکه. پیر معظم شاه د شیخ ملي د دفتر او د تواریخ افاغنه څخه ډېره ګټه پورته کړې او هغه ډېرې مهمې پېښې چې په هغه موده کې منځته راغلې وې هغه یې د دې کتابونو په حواله د خپل کتاب په منځپانګه کـــــې ځای پر ځای کړې دي. ډېر امکان شته چې پیر معظم شاه کله تورایخ حافظ رحمت خاني لیکه؛ نو د دې تاریخ د لیکلو پر مهال به ورسره د شیخ ملي دفتر او د تـــــواریخ افاغنه قلمي نسخې هم موجود وې. چې د همدې کتابونو لـــــه برکته پیر معظم شاه توانیدلی د تواریخ حافظ رحمت خاني په لیکلو بریالی شي. خو لـــــه بده مرغه د خان کجو تاریخ (تاریخ افاغنه) او شیخ ملي دفتر د خپل عصر دوه مهم کتابونه وو چـــــې د زمانې د حوادثو له امله لا تر اوسه زموږ تـــــر ګوتو نه دي را رسیدلي. د دې عصر د پښتو شاعرۍ یو څو بېلګې چې د رجزیه نعرو په بڼه موږ ته د حافظ رحمت خاني د کتاب له پاڼو رارسیدلي دي، هغه په دې ډول دي.

لکـــــه وایو هسې وینه
لاس تـړلي خدای راکړي
اوس مـو وژنو لکه مږونه
که جنګ وي پـــه یرغونه
ته به رانغلې پـــــه مږونه
لکه لاس تړلي یې درکړو
وس مو وژنه لــکه مږونه

داسې لــــه تراژېدۍ څخه ډکې پېښې فکر نه کوم چې د نړۍ په نورو قومونو کـــــې یې بېلګې وموندل شي. چې د یوې قبیلې تــــــر اووه سوه مخورو مشرانو ته دې کوم واکمن د میلمستیا پــــــه پلمه بلنه ورکړې او بیا دې د میلمستیا پرځای لاس تړلي د دوی په ټولوژنه لاس پورې کړې. دا لـــــه ناورین څخه ډکه پېښه د سلطان الغ بیګ مغل واکمن پــــه لاس له یوسفزیو سره رامنځته شوه. د دې یادونه په پاسني نظم کې د مکالمې په بڼه تر موږ را رسیدلې ده. د دې پېښې بشپړ تفصیل پـــــه تاریخ حافظ رحمت خاني کې راغلی دی. د هغه دور نـومیالی شاعر او پېښې لیکونکی خواجه ملیزي دی. خواجه ملیزی د نـــــــوموتي سردار د خان کجو یوسفزي ملګری او پېښې لیکونکی و، چـــې د جهانګیر تر واکمنۍ پورې ژوندی و.

## مأخذونه او څرګندونې


۱. حبیبي، عبدالحی. پښتو څوارلس کالــه پخوا، پښتو مجله، پښتو اکاډمي: پېښور پوهنتون.
۲. اثر افغاني، عبدالحلیم. پښتو ادب.
۳. شفق، رضا زاده. د ایران د ادبیاتو تاریخ.
۴. حبیبي، عبـدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ.
۵. د بشپړو معلوماتو لپاره دې رجوع وشي:
(أ) پټه خزانه، مؤلف محمد هوتک.
(ب) د پښتو ادبیاتو تاریخ، عبدالحی حبیبي.
(ج) پښتانه د تاریخ په رڼا کې، بهادر شاه ظفر کاکاخیل.
٦. هوتک، محمد. پټه خزانه.
۷. عروضي اصناف چې لـه عربي او فارسي اخستل شوي دي خو د پښتو ژبې شاعري په خپل اصنافو مشتمله ده. په دې کې د شاعرۍ هغه ټول ډولونه شامل دي، چې د عربي او فارسي ژبو شاعرانو پرې خپله طبعه ازمایلې ده. پښتو شاعرانو له دې ټولو اصنافو څخه ګټه پورته کړې. دا توکي یې له پښتو ژبې سره اشنا کړي دي او په ډېر ښه ډول یې خپل کړي دي. دې ته د پښتو کتابي شاعري ویل کېږي. د پښتو ژبې ټولو نوموتو شاعرانو د دې اصنافو په ویلو کې شهرت ترلاسه کړی دی.
۸. د پېښو د بشپړ تفصیل لپاره وګورئ:
(أ) تواریخ حافظ رحمت خاني، مؤلف پیرمعظم شاه.
(ب) پټهان، سراولف کیرو، (پېښور پښتو اکاډمي چاپ).


# پښتو ادبي دورې او...

دغه دور مونږ د باقاعده ادبي دورونو برخه نـــــه ده ګڼلې او تر دې دمه د پښتو ادبیاتو کوم څلـــــــور دورونه چې مشهور شوي دي، په هغې کـــې دا دور شامل کړی شوی نه دی. زه داسې ګنم چې دا باقاعده د دورونو پـــه شمار کې اچول پکار دي چې پـــــــه دې ډول به د پښتو ادبي دورونو شمار خامخا سېوا کېږي.

## پنځمه ادبي دوره

پنځمه دوره: نوی/جدید دور (د شلمې پېړۍ دور) دا دور چې څنګه تــــــر اوسه ګڼل شوی دی، د هغې تر مخه د شلمې پېړۍ د شروع نه تر اوسه پورې دوام لري خو خبره اهمه دا کول دي چې پـــــــه نورو دورونو کې د تقسیم دا عمل په داسې انداز شوی دی چې یـــــــا خو د هئیت او ماهیت په لحاظ د ادب یو شان والی دی او یا د سیاسي، ټولنیزې اوضاع د یو شان والي په وجه په یوه دور کې سره تړلي دي، بل خوا که مونږ دا دوره وګورو نو د هغې پـــــــه دغه دواړو صورتونو کې ډېر واضح بدلونونه په نظر راځي خو تر دې دمه ورته بیا هم مونږ د جدید ادب اصطلاح کاروو .

که موږ وګورو د شلمې پېړۍ له پیل نه د هند تر وېش په هیئتي لحاظ د نظمیه او د ماهئیت په لحاظ خالص د هند د خاورې یـا د قران د ازادۍ سره تړلی تصور او ورسره اصلاحي رنګ پـه شاعرۍ او افسانه خور دی. دې دور ته ډاکټر راج ولي شاه خټک پخپل کتاب "د پښتو ادبي تحریکونه" کـې د انجمن اصلاح الافاغنه په وجه "اصلاحي دور" هم ویلي دي.

که مونږ وګورو د شلمې پېړۍ له پیل نه د هند تر تقسیم پورې په هیئتي لحاظ د نظمــــــیه او د ماهئیت په لحاظ خالص د هند د خاورې ازادۍ یـــــــا د قران د ازادۍ سره تړلی تصور او ورسره اصلاحي رنګ پـــه شاعرۍ او افسانه خور دی. دغه دور ته اروابناد ډاکټر راج ولي شاه خټک پخپل کتاب "د پښتو ادبي تحریکونه" کـــــــې د انجمن اصلاح الافاغنه په وجه "اصلاحي دور" هم ویلي دي خـــو زه داسې ګنم چې اصلاحي نوم که تش د انجمن پـه وجه ورکوو نو دې نه زیات خو د دغه دور په شاعرۍ د خدایي خدمتګار تحریک سیاسي اثرات چې مونږ ورتــه بره اشاره کړې ده، موندل کېږي. مګر بیا هم کـــــــــه د راج ولي شاه خټک صاحب یاد کړی نوم هم مستعمل کړی شي، کومه بده خبره به نه وي.

د هند لـــــــــه تقسیم وروسته او د جمهوریت د بحالۍ (۱۹۸۸-۱۹۷۴م) پورې دلــــــــته د تصوف، ترقي پسند تحریک، پښتون نېشنلزم او د ولسواکۍ (جمهوریت) په شان تحریکونو د موضوعاتو په ترڅ کې د نظم تر څنګ د غزلیه شاعرۍ (او غزل کــــــــې د علامت نګارۍ، ایمائیت ، جمالیاتي توسیع) او رومانوي انداز پـــــــــه شکل کې یو ښکاره بدلون راځي. خو مونږ ورته هم هغسې جدید دور یا جدیده شاعري وایو. دغه دور ته ډاکټر راج ولي شاه خټک" د خوشحال د فکر نشاة ثانیه" وئیلي دي. خو دلته د ترقي پسند فکر او د جمهوري حقونو غوښتـــــــنه مونږ د خوشحال فکر سره تړلو ته نــــه پرېږدي. دلته که یو څوک نوم ورکول غواړي هم، نـــــو باید یو داسې نوم وټاکل شي چې دغه ټول برني موضوعات پــــه خپله لمنه کې را ونغاړي.

له۱۹۹۰م نه راپه دېخوا د پښتو ادب یـــو بل تصویر مخې تـــــــــه راځي چې د سوېټ یونین انهدام، د مات ګوډ جمهوري نظام، د نـــــــائن الیون پېښه او د دهشت او وحشت زړه ماتوونکی صورتحال وړاندې کوي. دغه دور ته بېخي یو بل نوم ورکول پکار دي خو له بده مرغه دغه ټول بېلابېل ادبي اشکال/انځورونه مونږ په یوه نوم یادوو یعني جدید، نوی ادب.

دلته بایـــــــــــد دا وضاحت هم وکړو چې د جدیدیت او مابعدجدیدیت اصطلاحات کارول کېږي چـــــــې ځینې ملګري یا نقادان یې د دورونو په تناظر کـــې پېش کوي (دا غلط فهمي د جدید نه جدیدیت او بیا مابعد جدیدیت په ترڅ کې راغلې ده، ګني داسې هېڅ قسم خبره نشته)،

له۱۹۹۰م نه وروسته د پښتو ادب یـو بل تصویر مخې ته راځي چې دغه دور ته بېخي یو بل نوم ورکول پکار دي خو له بـــده مرغه دغه ټول بېلا بېل ادبي شکلونه/ انځورونه مونږ په یوه نوم یادوو یعني جدید نوی ادب.

خو دغه اصطلاحاتو علمي او په خاصه توګه د تحقیق او تر څه حده د تنقید مېدان متاثره کـــړی دی چې د تیوریز په شکل کې یې مونږ مطالعه کوو. ګني کـــه وکتی شي نو د (۱۹۵۰م) نه پس هم د مها بیانیې پـــه ترڅ کې د ادب د تخلیق کولو عمل ترسره شوی دی چې د تصوف، ترقي پسند فکر، جمهوریت او انسان دوستۍ پــــــه شان ستړې مها بیانیې لري چې د جدیدیت پـــــــه نوم د نومولو لپاره زمونږ لاره هواروي. د نولس سوه نوي نـــــه پس د سوېټ یونین انهدام او د جمهوریت په نوم پورې د جمهوریت پسندو له خوا ټوقو او د نــــــوي استعماري نظام ټینګو نوکارو د مها بیانیې تصور تت کړو چــې د مابعد جدیدیت نوم د کارونې لپاره لاره جوړوي.

په هر صورت ضرورت ګڼل کېږي چې د نــــــوي ادب پوله وټاکل شي او لــــــــه هغې نه پس ته ادبي دوره یا دورې (شپږم، اووم که اتفاق ورسره امکان لري) په نورو نومونو هم وپېژندلی شي. پای

# زېری

علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کمپوز او ډیزاین:** دوکتور خاورین

**کتنپلاوی:** اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

**برېښنالیک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز
څېړنیز ارگان

**د اړیکې شمېرې:** (+93) (0) (780831960)
(+93) (0) (202201279)

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د یوې گڼې بیه:** پنځه افغانۍ




## تسنیم او تاناتوس (Thanatos)

**پوهندوی گل رحمن رحماني**

تسنیم د پښتو ژبې د نوو خبرو او ترکیبونو شاعر دی، د غزل رنگارنگي یا لفظي ښکلاوې هم د سپړلو او ویلو لپاره ډېر څه لري. په دې لیکنه کې د هغه په یوه مشهور غزل کې د یوه اسطوروي تصویر او تصور د سپړلو هڅه شوې ده؛ زما مطلوب بیتونه په لاندې ډول دي:

> پــــــــــــــــــریزاده! زړه مې چوي له اضطرابه
> کوم جــــــــــــــــادو به تا را پورته کړي له خوابه
> پــــــــــــــــــریزاده! زه که دا وارې ویده شوم
> هېڅ یـــــــــــــو شور به مې را ویښ نه کړي له خوابه

هسې خو شعر په خپل ذات کــې جادويي یا کوډگر هنر دی چې د انسان حواس پــه حیرانوونکي ډول په نا لیدلو منظرو او جزیرو گرځوي، د داسې کیسو او تجربو خبرې ورسره شریکوي چې خپله یې تجربه کړې نــــه دي. د لرغونو افسانو او اسطورو د جذابیت یو تر ټولو مهم ټکی اسطوروي عنصر او د بیان کوډگر سبک دی. په اسطورو افسانو او فولکلوریکو کیسو کــې ډېرې داسې پېچلې او هیجاني پېښې شته چې انسان خپلو هیلو او ارمانونو ته د جادو یا کوډو په مرسته رسېږي، پــه داستاني سبک کې هم ډېرې غوټې د جـادويي ځواک په مرسته خلاصېږي او کرکټرونه په غیر مترقبه ډول خپلو هیلو ته رسوي.

اسطوروي بیان او تصویر نظم او نثر تــه په پراخه اندازه مخه کړې، په نړیواله شاعرۍ کــې جادويي بیان او هنر د شعر له ښکلاییزو عناصرو څخه گڼل کېږي. پـــه پښتو شعر کې یې ځرکونه کم دي، خو پـه ولسي کیسو کې یې د نړۍ د فولکلوریکو کیسو په څېر بېلگې لرو.

د تسنیم په یادو بیتونو کې همدې روایت زما پام ځان ته واړوه، په افسانو او اسطوره یي پېښو او کیسو کـــې پري (ښاپېرۍ) د ښکلا ملکه او سمبول وي، د جادويي ځواک او خوب پېښې پــــه کې راځي چې هم یو شهزاده او عادي کس په جادويي خوب ویده کېږي، خو بیا پاڅول یې هم یوه جادو ته اړتیا لري او تر هغو قوي جادو او شور باید د ویده کولو (خوب) جادو مات کړي چې ورسره پـــه جادو ویده شوی کس خپل اصلي حالت ته ستنولی شي او کـه پیدا نه شي؛ نو جادو د مرگ په څېر اوږدېږي، خو تسنیم خپل پریزاد ته وايي چې که دا ځل ویده شوم، بیا داسې کـــوم جادو او شور نشته چې بېرته مې را ویښ کړي، پـــه دې بیان کې "بیا" دا هم راته څرگندوي چې شاعر تر دې وړاندې هم د جادويي خوب تجربه کړې او نوي خبره نه ده، خو دا ځل تر ټولو خطرناکه او وروستۍ ښکاري.

شاعر ولې د خوب چــې لرې معنا یې مرگ ده،لېوال دی؟ پـــه یوه بل نیم بیتي "ته خبر یې د ځنگلو له ادابه" کې ځنگل هم د پري، ښامار او پـــه ټوله کې د اسطوروي عناصرو یو بل شریک دی د ادابو رعایت هم د ځنگل دنیا د موجوداتو ځانگړنه ده، خــو د مرگ په لور تمایل او له ژوند تېښته د اروایي څېړنو له مخې په انسان کې د مرگ غریزه تاناتوس (Death Thanatos) ده.

په ژوند کې د لذت یـا خوند اصل د نامتو ارواپوه فروېډ په څېړنو او تیوري کې مرکزي ځای لري او د غریزې اصل یې په خپلو پخوانیو تیوریو له کره کتنې وروسته په دوه برخو د مرگ غریزه (تاناتوس) او د ژوند غریزه (ایروس) باندې ووېشله چې د انسان په وجود کـــې د دواړو تر منځ یوه دایمي شخړه موجوده ده، خو په پای کې برۍ د تاناتوس (د مرگ غریزه) په برخه وي. تــر دې وړاندې فروېډ ویل چې په نړۍ کې د شخړو او نړیوالو وژونـــکو جگړو او د ټولوژنو یو مهم لامل د انسان په وجود کـــې پټه جنسي غریزه او له پخوا پاتې محرومیتونه دي.

د مرگ او ژوند غریزه په یوناني اساطیرو کــې د "خوب"د یوه ورور هیرینوس له نوم سره تړلې چـــې د مرگ معنا لري. استاد کرگر وايي چې د شاعر ذهن او حواس د هغه د تمایل او اشتیاق مرکز دی چـې دی په کې د خپل هوس او غوښتنو انځورونه جوړوي.

د رومانتیزم ادبي مکتب یوه ځانگړنه لــه ولسي فرهنگ، افسانو او اسطورو څخه پراخــه گټه اخیستنه ده. د دوی د ژوند هغه اړخونه او ارمانونه چـــې په واقعي دنیا کې تحقق نه مومي، د خـــارق العاده ځواکونو لکه خوب، جادو او اسطوروي کرکټرونو په مرسته انځوروي، د دې لپاره په لرغونو اسطورو تکیه کوي، هم اسطورې کاروي او هم اسطورې پنځوي. رومانتېستان د هــمدغه اسطورو په مرسته خپل خلاق تخیل څرگندوي، زیاتره مفاهیم او اسطوره یې تصویرونه د یـــوه ارماني واقعیت د هستونې لپاره له خپل الهام څخه د سرچینې په توگه کاروي.

په کلي توگه په ژوند کې د غربت غم یو دلیل هم اسطوره جوړونه ده، دا اسطورې په واقعیت کې د لومړۍ دنیا او له لاسه ورکړې حیثیت بیا رغونه ده. پـــه همدې اساس اسطوره جوړونه هم یو نوستالژیک اغېز لري او د بشریت د ژوندانه د ماشومتوب د دوران یوه برخه ده.

اِروس انسان د خپل حیات دوام ته هڅوي، مینه، محبت او د نس زېږون او د ژوندانه تمایل پـه کې ژوندی ساتي، باید ژوند وکړي او لــه ژوند څخه خوند واخلي. تاناتوس بیا د دې برعکس کار کوي، خو د بشر پـه تاریخ کې یې د انسان فکر بوخت ساتلی او هغه ته یې د خپل خوندیتوب مفکوره ورکړې ده، مگر دواړه لـــه لبیدو څخه سرچینه اخلي. پای

## "په افغانستان کې روسي کلاسیک ادبیات" اثر ته کتنه

**څېړنپوه عبدالرحیم بختانی خدمتگار**

"روسي کلاسیک پــه افغانستان کې" هغه علمي څېړنیز اثر دی چـــې د روسۍ ختیځپوهې الیفتینا سیر گیفنا گیرا سیمووا لـه خوا تألیف شوی دی. نوموړی کتاب د روسیې د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې انستیټیوټ لـه خوا په ۲۰۱۵م کال په مسکو کې دښاغلي رحمن الدین سراجی په مالی لگښت په ۱۸٦ مخونو کې چاپ شوی دی.

نوموړی کتاب سریزه او څلور فصلونه لری. لومړی فصل یې ((د الکساندر سرگیوویچ پوشکین شخصیت او اثار د افغانانو له نظره)) نومیږي. دوهم فصل یې ((لیف نیکولا یو ویچ تولستوي او د هغه اخلاقي حیثت)) نومول شوی دی. دریم فصل یې ((انتون پاولوویچ چیخوف د لیکوالي صنعت یوه بیلگه)) ته ځانگړی شوی دی او څلورم فصل ته یې د ((د ماکسیم گورکـــي د اثارو او شخصیت سره ځانگړې پاملرنه)) سرلیک ورکړل شوی دی. د کتاب پـــه پای کې پایله او د مأخذونو فهرست راغلی دی.

د سریزې په پیل کې پـــه افغانستان او ځینو نورو شرقي هیوادونو کې د روسیې د کلاسیکو ادبیاتـــو د څېړنې او ژباړې په اړه داسې معلومات راغلي دي ((پــــه شرقي هیوادونو کې د روسیې د ادبیاتو په اړه ژباړې او څېړنې په یوه ټاکلي وخت کې پیل شوي نه دي. پــه عمومي ډول د لومړي ځل لپاره دغه کار د نـــولسمې میلادي پېړۍ په اتیایمو کلونو کې پیل شو. د نژدې ختیځ او منځني ختیځ په هیوادونو کې لومړی ځل په ۱۸۸٦م کال کې د ترکیې خلک د روسي ادبیاتو سره اشنا شول. د نولسمې میلادي پېړۍ په پای کې پـــه ځینو عربي هیوادونو کې د روسیې کلاسیکو ادبیاتو ژباړې پیل شوې. په ۱۸۹۸م او ۱۹۰۰م کلونو کې د گوگل او پوشکین د اثارو ژباړې د بیروت په چاپ خانو کې چاپ شوې. پـــــه ۱۹۰۱م کال کې د تولستوی د اثارو ژباړه د قاهرې په ښار کې نشر او د دې سیمې خلک د روسي ادبیاتو سره بلد شول.

په چین او هندوستان کې د شلمې میلادي پېړۍ په پیل کې خلک د روسي ادبیاتو سره اشنا شول. پـــه ۱۹۰۳م کال په چین کې د پوشکین او تولستوی اثار پـــه چینایي ژبه وژباړل او چاپ شول. همدارنگه په همدې کال کې د روسیې د لیکوالانو ځینې اثار په هند کې په بنگالي ژبه وژباړل او چاپ شول. په ۱۹۰۵م کال کې پـــه هند کې ځینې نور روسي اثار په گجراتي ژبه هم وژباړل شول.

په ایران کې هم په نولسمه میلادي پېړۍ کـــې د روسي ادبیات کتابونه ژباړل شوي او په دې برخه کې څېړنه هم تر سره شوې ده. په افغانستان کــــــې د نورو شرقي هیوادونو په نسبت څو لسیزې وروسته افغانان د روسي ادبیاتو سره اشنا شول. په دې هیواد کې د لومړي ځل لپاره د شلمې میلادي پېړۍ په دیرشمو کلونو کې خلکو د روسي ادبیاتو په اړه معلومات تر لاسه کړل.

په افغانستان کـــــــې د لومړی ځل لپاره په ۱۹۳۲م، ۱۹۳۷م او ۱۹۴۷م کلونو کې په کابل مجله کې د روسي ادبیاتو ژباړه او په دې اړه څېړنې پیل شوې.))

د سریزې پــــــه بله برخه کې د روسیې نامتو کلاسیکو لیکوالانو د هغو اثارو په اړه چې د شلمې میلادي پېړۍ د پنځوسمې لسیزې څخه وروسته په افغانستان کې ژباړل شوي دي داسې یادونه شوې ده ((په دې کتاب کې د روسیې د کلاسیک ادبپوهانو لـــــه جملې څخه د څلورو لاندې نامتو روسي ادیبانو پـــر هغو اثارو باندې چې په پښتو ژبـــاړل شوي تحلیلونه وړاندې شوي دي: ا. س. پوشکین، ل. ن. تولستوی، ا. پ. چیخوف او مـــاکسیم گورکي. د روسیې بل نـامتو لیکوال ف. م. داستایوفسکي د اثارو ژباړه په دې کې شامله نه ده. د هغه له اثارو سره د افغانستان په ادبي محافلو کـــې لږ وروسته خلک اشنا شول. په ۱۹۸۱م کال کې د زیري جریدې په څلورمه گڼه کې د داستایوفسکي د اثارو ژباړه چاپ شوې ده. لــه دې نه پرته د داستایوفسکی د نامتو داستان ((سپیني شپې)) ژباړه د ډاکتر لطیف بهاند لــه خوا په ۲۰۱۳م کال کې تر سره شوې ده. لـــه دې پرته په ۱۹٦۲م کال کې د هېواد نامتو لیکوال او شاعر اکــــــاډیمیسین سلیمان لایق د لیرمانتوف شپږ شعرونه پـــه پښتو ژبه ژباړلي دی او په خپلې شعري ټولگې ((چونغر)) کې یې خپاره کړي دي)).

د کتاب په پای کې پایله وړاندې شوې ده. په پایله کې په افغانستان کې د روسي کلاسیکو ادبیاتو پـــــه اړه ژباړې څېړنې او چاپ په دریو لاندې مرحلو ویشل شوی دی:

((لومړۍ مرحله: د شلمې پېړۍ د ۳۰مو او ۵۰مو لسېزو په منځ کې: په دې مرحله کې د لومړي ځل لپاره افغانان د ځینو نامتو روسي لیکوالانو له اثارو سره اشنا کېږي. د دې دورې له مهمو ادبي فعالیتونو څخه یـــو هم په ۱۹۴۵م کال کې په ((انیس)) ورځپاڼه کـــې د ا. س. پوشکین د اثارو د ژباړې او په ۱۹۵۹م کال کې د پوشکین پـــه اړه د محمد حیدر ژاله د اثارو چاپول دي.

دوهمه دوره: د شلمې میلادي پېړۍ د شپیتمې او اویایمې لسیزې په منځ کې: د دې دورې له مهمو ادبي فعالیتونو څخه یو هم د عبدالکریم فهیم علمي - څېړنیزه مقاله ((خوشحال او پوشکین)) تـــر سر لیک لاندې په ۱۹٦٦م کال کې چاپ شوې ده. پـــه دې مقاله کې د خوشحال خان خټک ځینې شعرونه د پوشکین د ځینــــو شعرونو سره مقایسه شوي دي. څرنگه چې دواړو شاعرانو د نړۍ په مختلفو سیمو کې ژوند کولو او نژدې دوه سوه کاله د دوی تر منځ د ژوند تفاوت و، بیا هم د دوی پــه شعرونو کې ډېر مشابهتونه او نژدیوالی موجود و. لیکوال د دواړو شاعرانو په اړه لیکي چې، دواړه شاعران د خپلې ملي ژبې او ادبیاتو له بنسټ اېښودونکو څخه شمېرل کیږي.

درېیمه دوره: د نولسمې پېړۍ د ۸۰ مو کلونو څخه تـــر یوویشتمې پېړۍ پورې: پـــه دې دوره کې تر ټولو زیات د روسي کلاسیک ادبیات په برخه کې د افغان ادیبانو پوهانوعلمي کارونه وځلیدل او د روسي لیکوالانو د هنري اثارو ژباړې ډېرې تر سترگو کیږي. په دې دوره کې په دې برخه کـــــې د محمد صدیق روهي، عطایي، عبدالحی حبیبي، م. ا گربز او ب. مختار علمي - ادبـــی کارونه د یادوني وړ دي. د دې دورې د ادبي فعالیتونو مهمه برخه د عطایي مقاله ((سوله او جگړه)) ده، چې پــــه ۱۹۸۰م کال کې چاپ شوې ده. په دې مقاله کې د سولې او جگړې په برخه کې د تولستوی نظریات ډېر ښه تحلیل شوي دي. همدارنگه د عبدالحی حبیبي کتاب ((د ژوند او هنر په برخه کې د ماکسیم گورکي لاره)) دی، چې په ۱۹۸۵م کال کې چاپ شوی دی.

د روسي کلاسیکو ادبیاتو د شعر په برخه کې ډېر مهم او د یادونې وړ کـــــار د چیخوف د اشعارو منظومه ژباړه ((ځورب او خوار)) پـــــه نوم اثر دی. دغه هنري کار د عبدالله بختاني له خوا تر سره شوی او پـــه ۱۹۸۰م کال کې چاپ شوی دی. مونږ کولای شو چې د یوویشتمې پېړۍ پیل په افغانستان کې د کلاسیکو ادبیاتو د ژباړې او څېړنې د څلورمې دورې په توگه وپېژنو.

د یوویشتمې پېړۍ له پیل نه تـــــر ننه پورې د افغانستان لیکوالان او ژباړونکي د روسي کلاسیکو ادبیاتو د ژباړې او څېړنې پــــه برخه کې نوي کارونه او لاسته راوړنې لري. په دې دوره کــــې د ډاکتر لطیف بهاند کارونه او ژباړې د یادونې او ستاینې وړ دي. هغه پـــه ۲۰۱۱م کال کې د ن. و گوگل، ف. م. داستا یوفسکي او ماکسیم گورکي مقالې وژباړلې او د انټرنیټ پــــه سایټونو کې یې خپرې کړې. همدارنگه ډاکتر لطیف بهاند دشپږو کلونو په جریان کې د ا. تولستوی نامتو اثر ((سوله او جگړه)) په پښتو ژبه وژباړلو او پـــــه څلورو ټوکونو کې یې چې ټول (۲٦۷٦) مخونه کیږي، په ۲۰۱۲م کال کې چاپ کړ)).

د کتاب په شاپانه د کتاب لیکوالې د ژوندلیک او اثارو پــه اړه راغلي دي چې: گراسیمووا الیفتینا سیرگیفنا د مسکو ختیځ پېژندنې انستیټیوټ فارغ التحصیله ده، د فلالوژۍ د علم ډاکتره او د ختیځ پېژندنې انستیټیوټ پروفیسوره ده. د سل په شا و خوا کـې علمي څېړنیز چاپ اثار لري. د هغې زیاتـره اثار د شلمې او یوویشتمې میلادي پېړۍ په جریان کې د افغانستان د ادبیاتو د پرمختگ په اړه دي چې نه یوازې پــه افغانستان بلکې په ډېرو نورو بهرنیو هیوادونو کې ورسره خلک اشنا دي او گټه ترې اخلي. د کتاب په پای کــې د مأخذونو فهرست چې شمېر یې نژدې یو سل او پنځوس (۱۵۰) ته رسېږي وړاندې شوی دی.

د روسی کلاسیکو ادبیاتو په برخه کــــــې دا ډېر گټور او علمي اثر دی. زما وړاندیز دا دی چې دغه ارزښتمن اثر باید په پښتو ژبه وژباړل او چاپ شي. پای

## یوه فلسفه دوه بیته

**څېړندوی محمد طاهر شرر ساپی**

انسانانو د تاریخ په اوږدو کې د ښځې په اړه گڼې نظرېې لرلې دي. بابلیانو به نجونې عشتار ته وقف کولې. اروپایانو به ښځې او اوبو ته نږدې کېدل گناه گڼله. هندوانو به ژوندۍ سوځولې او عربانو ژوندۍ ښخولې. فارسیانو به په واک کې شریکولې خو د خپلو باورونو پر بنسټ یې له خویندو سره ودونه کول.

د اسلام د سپېڅلي دین په راتگ سره ښځې ته خپل حق بېرته اعاده شو. موږ په ښځه پسې په اسلامي کتابونو کې پلوځې نه بلوو، هغه اوږده موضوع ده، یوازې غواړم د پښتو په دوه بیتونو کې د ښځې پر مقام او د بیتونو په هنري اړخ یو څه ولیکم.

کوم دوه بیتونه چې ما انتخاب کړي په هغې کې امتزاج دی، ښځینه نفس ته بشپړ احترام او درناوی دی او د دې تر څنگ په ضمني توگه د هغوی ستاینه ده.

لومړی بیت د حمزه بابا دی، هغه وايي:

> ما ته یـــــو حکیم ویل، لحاظ د شرافت کوه
> مه گوره حمزه چې جینۍ توره جینۍ سپینه ده

د پورته بیت خام مواد حکیم، ویل، لحاظ، شرافت، جینۍ، تور او سپین دي. حمزه بابا له اسلامي فلسفې نه په تأثر دغه بیت پنځولی دی چې د انسان په ښه بڼه پیدا کولو ته په کې اشاره شوې. د حکیم کلمه راسره د بابا په تأثر کې پوره مرسته کوي. بابا راته وايي چې دې ته مه گوره چې جینۍ سپینه که توره ده، بلکې د هغې ذات ته وگوره چې خدای تعالی شرف ورکړی دی. جنت یې په دغومره لوی والي د هغې د پښو لاندې کړی دی.

دوهم بیت د پیرمحمد کاروان دی، هغه وايي:

> نجونو تـــــه بدرنگې ویل کفر دی کاروانه
> سپینې پاغوندې دي او که تورې کوټنۍ دي

د کاروان د بیت خام مواد نجونې، بدرنگ، کفر، سپین، تور، کوټنۍ، پاغوندې دي. حمزه بابا د تصوف او کاروان د مفتي په دریځ ولاړ دی. بابا نقل کوي خو دا نقل بېرته له هغه نه دی، د هغه په بیت کې تشخص دی، غواړي چې خبره یې کره او ومنل شي نو ځکه د حکیم کلمه کاروي. کاروان مستقیم وایي چې دا کار کفر دی، غواړي د لوستوال په ذهن کې دا ترسیخ کړي چې نجونو ته بدرنگې مه وایئ. کاروان ولې دومره تشدید کړی دی؟ هیڅ نجلۍ ځان بدرنگه نهویني او حقیقت هم دا دی، بدرنگي او ښکلا نسبي صفتونه دي، نجونو ته بدرنگې ویل د هغوی زړونه ماتوي، متاسفانه په افغاني ټولنه کې په ظاهري ښکلا ترکیز ډېر کیږي. د هلک په اړه څوک نه وايي چې بدرنگ دی، که یوې نجلۍ ته بدرنگه وویل شي د هغې روان ماتیږي او ماتې خوري، نو ځکه کاروان هم په ډېر تشدید دا خبره کوي چې دا کفر دی.

حمزه بابا په بیت کې ځان ته خطاب کوي ځکه چې د تصوف په دریځ ولاړ دی، خو کاروان مخاطبینو ته وايي او مفتیان خو وې همداسې. په دواړو بیتونو کې امریه جملې دي، په لومړي کې مخاطب خپل شاعر دی او په دوهم کې ولس دی.

د حمزه بابا په بیت کې جینۍ له هر صفته عاري ده، کوم صفت ورته منسوب نه دی خو د کاروان په بیت کې ښایسته نجونې له سپینو پاغوندو او تورې له چنگړیانو سره تشبیه شوې دي تر څو د مخاطب په ذهن کې دواړه تصویرونه روښانه کړي. په ټولنه کې ځینې خلک تورو نجونو ته چنگړې وايي ځکه د دوی په ذهن کې له چنگړیانو بدرنگه نشته.

ایا دغه صفتونه اضافه دي که کوم رول یې لوبولی دی؟

شاعر په خپل چاپېریال کې ژوند کوي، موضوع هم سیمیزه ده، نو اړ دی چې د دواړو له پاره خام مواد له همدې چاپېریاله را واخلي، سپینې پاغوندو کې څو صفته دی، یو سپین والی دوهم پوستوالی طبعا هغه تشبیه ډېره خوږه او تصویري وي چې وجه الشبه په کې متعدد وي. توره کوټنۍ که عامه اصطلاح نه ده خو بیا هم ډېرو سیمو کې استعمالیږي، زما هدف لفظ دی نه د لفظ معنا. په معنا کې به تر دې ښه تصویر په سخته وموندل شي.

حمزه بابا د بدرنگ په ځای د تورې کلمه کارولې، ځکه چې له خپلې زاویې نه ورگوري، خو کاروان بدرنگه کلمه کارولې ځکه چې د نورو له سترگو ورته گوري.

د دواړو شاعرانو موخه یوه ده، حمزه بابا له کاروانه مخکې دی، هغه ته د مخکې والي برتري ورکوو او کاروان ته د زیاتونې برتري ورکوو. پای


ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (PhD)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

**Compose & Layout Design:**
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature, Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:** zerai1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com